مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۲/۰۱/۱۷

# د ډیوې سلګۍ

زه له ځان ځنې خپه راغلی یم
ګلې! تاته په ګیله راغلی یم

سپیان خبر نشول، پالنګ سر ته دې ناست یم
زه په بنده دروازه راغلی یم

ستا پر شونډو مې عمرې تنده کړه ماته
د زمزمو په چینه راغلی یم

په بوسو مې درته هر یو تصویر خوږین کړ
دومره مست، دومره نشه راغلی یم

له هر نازه دې قربان شم، خو دا واوره:
اوس خو تا کره میلمه راغلی یم

دا جهان مې د دوه – درې ورځو مسکن دی
زه خو دلته په میله راغلی یم

ازادي مې شوه نفس پورې محدوده
نور ولچک او زولانه راغلی یم

لاس نیولی، پر باریکو لارو سر کړم
زه دې چم ته توره شپه راغلی یم

زه چې راغلم د ډیوې وروستی سلګی وې
د پتنګ په جنازه راغلی یم

زه چې راغلم خوشحالي وه خلاصه شوې
دې خیرات ته پسینه راغلی یم

یو پېټ درد یمه سایه ور سره ګرځم
زه (نعمان) سره جوړه راغلی یم

نعمان دوست، د لیندۍ ۳۰، ۱۳۹۳ ، جلال اباد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ